صيام الدين « پسرلى »


د نشر نيټه : ۱۴ اکتوبر ۲۰۱۲ ميلادى

# ختيځ ادبي بهير خپله ۱۳ مه اونيزه غونډه ترسره کړه





ختيځ ادبي بهير خپله ۱۳ مه او نيزه غونډه د د عرفان الله بيدار په ويندويۍ د (۱۳۹۱) کال د تلې مياشتې په ۲۱ مه د جلال اباد ښار د ميوديتيک په انګړ کې ترسره کړه.
داغونډه چې د فضل حق سيد لخوا د قران پاک په څو مبارکو اياتونه پيل شوه، مشر ميلمه يې دوست محمد دوست او د کوربه په څوکۍ انجينر طارق تسل ته د کيناستو بلنه ورکړل شوه.
په سرکې د تيرې غونډې د ګزارش لوستلو لپاره ايمل مرووند دريځ ته وبلل شو، د ګزارش له لوستلو ورسته ناستو ملګرو په ګزارش خپل نظرونه ورکړل.
پرګزارش د خبرو پيل محمد نادرش دانش وکړ هغه وويل: زه فکر کومه بهيرواوالو ډېره ښه پريکړه کړې، چې ايمل مرووند يې د ګزارش ليکلو لپاره ټاکلى دى، په خبره يې ده کمال کړى دى او ګزارش يې داسې ليکلى دى، چې سړى ځان سره تيرې غونډې ته وړي او د غونډې ټول تصوير ورته مخ کې ګدي.
هغه زياته کړه زه تيره اونۍ نه ومه، خو د ګزارش په اوريدلو مې داسې احساس وکړ، چې ګونډې تيره غونډه کې ناست يمه د دانش په وينا په ګزارش کې ،خو نه وه او تر ټولو يې ډېر خوند ماته د مرووند د لوستلو انداز راکړ.
بازمحمد عابد هم د ګزارش د زياتې ستاينې ترڅنګ نيوکه درلودله، چې په تيره غونډه کې يې د حمزه بابا په بيت ډېرې خبرې کړې وې، خو په پوره ډول نه وې راخيستل شوې .





پر ګزارش ډېرې خبرې ونه شوې او د ناستو ټولو ملګرو لخوا یې د لیکلو او لوستلو ستاینه وشوه .
د غونډې په دوهمه برخه کې د حضرت یوسف یوسفزي د نشتون له امله ځوان بهیروال سید حضرت شیدا پاچا دریخ ته وبلل شو او د( موزیګي کټ) تر سرلیک لاندې یې خپله لنډه کیسه کرکتنې ته وړاندې کړه .
پر لیکنه د خبرو پیل ایمل مړوند وکړ، وې ویل که څه هم نثر ښه لیکل شوی دی او شیدا ښه هنري الفاظ کارولي دي، خو زه یې له دوه درې ځلو لوستلو ورسته هم په هدف پو نه شومه .
نقیب احمد اتل تر ډېره د لیکنې په لیکنۍ برخه وګړیدو او په لیکنه کې یې ګڼو لیکنۍ تېروتنو ته ګوته ونیوله.
د اتل په وینا نوي ځوان لیکوال باید لیکنۍ برخې ته ډېره جدي پاملرنه وکړي او کله چې یوه لیکنه کوي او یایې کرکتنې ته وړاندې کوي باید څو ځله یې ولولي، چې لیکنې تیروتنې ونه لري د اتل په وینا لیکنۍ تیروتنې د لیکنې او هم د لیکنې د لیکوال په شحصیت بد اغزیز کوي .
اتل د لیکنې د جوړښت په اړه هم خبرې وکړې وې ویل: د شیدا پاچا لیکنه یې خوښه شوه هنري الفاظ لري، خو ولې کیسه ورته نه شو ویلی په وینا یې کوم توکي چې په کیسه کې وي د پاچا په لیکنه کې نشته دی او لیکنه یې یوه نثري لیکنه یاده کړه .
محمد نادر دانش په سرکې د شیدا پاچا د همت ستاینه وکړه، چې په کم عمر کې یې خپله لیکنه د کره کتنې لپاره راوړې، خو زیاته یې کړه چې د لیکنې تراخره په دې تمه ومه، چې اوس به لیکوال د لیکنې غوټه پرانیزي، خو ترپایه د لیکنې موخه او هدف د تورو په اوبډنه کې ورک شوي و.
د دانش په وینا د لیکنې د عنوان په لوستو سړی فکر کوي، چې په دې اړه به پکې څه وي ، خو د تر پایه هم سړی نه پوهیږي، چې د لیکوال هدف څه دی او څه غواړي، خو په لیکنه یې ښه کلیمات ځای کړي دي په باور یې یو ښه ساده نثر یې لیکلی دی .





قاري عبدالله سهار هم د اتل سره په یوه خوله و، په وینا یې کیسه نه ده څکه، چې کیسه ایز توکي پکې نشته او نثر هم ترېنه یو څه ګډو وډ شوی دی یوازې د تورو اوبدنه یې کړې ده چې ښه یې کړې ده .







سهار تریوه بریده د دانش سره همغږی و او ویل یې، چې دا یو ساده نثر دی نوموړي د لیکوال د لوستلو انداز وستایلو .
ډاکټر بشیر احمد پرهر لیکنه یوه نثري لیکنه یاده کړه او ( لکه سړی چې خپله معشوقه د کور په انګړی کې وګوري) دا جمعله چې د ځینو ملګرو لخوا پرځای کارول شوی جمعله نه وه بلل شوی پرځای وبلله او زیاته یې کړه، چې داسې کیدای شی هغه د خپلو خبرو د پخلي لپاره ګډونوالو ته د بېلګې په ډول وویل: کله چې څوک د یوې اوږدې مسافرۍ ورسته په ناڅاپي ډول کور ته راشي او خپله مېرمن د کور په انګړ کې وګوري، نو همداسې یو انځور وړاندې کوي.
پرهر په ټوله کې لیکنه وستایله او په وینا، چې د لیکنې نه د لیکوال هدف تر ډېره د هیواد سره مینه څرګنده وي، خو یوازې دا همدف بې یو څه ګونګ وړاندې کړی دی.
د پرهر په وینا شیدا پاچا، چې لا نوی ځوان دی راتلونکي کې ورته ډېرې هیلې کیدای شي .
بازمحمد عابد هم د شیدا پاچا عمر ته په کتو وویل: شیدا کمال کړی او په دې لیکنه کې یې د کلیمو ډېره ښه کارونه کړې ده د عابد په وینا زه هلمند یمه که پاچا همداسې مخکې لاړ شي نودېر ژر به ډېرې ښې او کره لیکنې وکړي.
عابد ځوانانو لیکوالو ته لارښونه وکړه، چې د کیسه لیکلو لپاره د ټولنې له منځ نه ځینې ژوندۍ او پټې سوژې راوخلي او بیا یې کیسې کړي په باور یې د ژوندیو موضوعاتو نه ډېرې ښې کیسې جوړیدای شي .
هغه خپلې خبرې د کره والي په موحه د یو بهرني لیکوال یوه لنډه کیسه ګډونوالو ته په لنډ ډول وویله او په هغې یې خبرې وکړې، چې د کیسې لیکوال پکې د ټولنې یوه ژوندۍ موضوع راخیستې وه .
دوست محمد دوست هم په لیکنه کې لیکنیو نیمګړتیاو ته ګوته ونیوله، خو د شیدا پاچا جرت یې د ستایلو وړ وبللو. هغه په ټوله کې لیکنه وستایله چې ښه نثري لیکنه ده او په ډېرو هنري کلیمو لیکل شوې ده .
غزت الله ځواب بیا د لیکنې د هدف او موخې په اړه خبرې وکړې وې ویل، چې لیکنه تر ډېره ګونګه ده او په بیا بیا لوستلو یې هم لوستونکی په هدف نه پوهیږي، چې لیکوال څه غواړي.
د ځواب په وینا په ځینو ځاینو کې د الفاظو په کارونه کې هم ډېره مبالعه شوې ده او ځینې کلیمې په ځای نه دي کارول شوي.

محمد زمان سهیل وویل، چې لیکوال غواړي خپل خوب په خپله تعبیر کړي ده وویل که د مشهور کس پرځای د خوب د تعبیر لپاره د کوم ملا نوم یاد کړی شوی و له نظره یې ښه به راغلی و.





د ملګرو لخوا پر لیکنه له خبرو ورسته د ویاند لخوا خپله لیکوال دریځ ته وبلل شو شیدا پاچا په سرکي د ټولو ناستو کسانو مننه وکړه، چې د ده په لیکنه یې دومره خبرې وکړې او بیا یې په لیکنه کې د ځینو کلیمو او د لیکنې په جوړښت او موحه ګډونوالو رڼا واچوله.





د د شید پاچا پر لیکنه له کرکتنې ورسته یوه ازاده مشاعره شوه چې لاندې کسانو پکې ګډون درلودلو.
محمود خزان، محمد نادر دانش، ضیالدین همت مل، هداین الله کامران، حالدتکان، محمد زمان سهیل، میرزا طارق، فرهاد الله اسیب، عبدالقدیر ملنګ، دوست محمد دوست، ایمل مړوند، سید حضرت الله شیدا، زمری غزیزي، الفت پاځون، محمد طارق تسل،قاري عبدالله سهار، ډاکتر بشیر احمد پرهر، محمد اسمر سمر، نقیب احمد اتل، نیاز محمد صافی، غزت الله ځواب، سمندر ساحل، شریف راحل، فرید الله ملاتړ، بختیار، حفیظ الله نظیمي، صاحب الله عابد، هارون خپلواک، محمد نعیم زهیر، عبد الله هوډ، بازمحمد عابد، او فضل حق سید.
د غونډې په پای کې د دې اونې د غونډې مشر میلمه دوست محمد دوست دریځ ته وبلل شو نوموړي غونډه ښه وارازوله او غونډې ته په خپل وخت په راتلو یې ټینګار وکړ.
په پای کې د تیرې اونۍ د کرکتنې لپاره الفت پاځون د خپل شعر د راوړولو ژمنه وکړه .
او په دې سره غونډه غرمه مهال پای ته ورسیده .




هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است